پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۴/۱۳

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۶۵ مه پرله پسي برخه
کابل
او د افغانستان سویل – ختیځ
ایدیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

**ننګـرَهار:** نینګرهار: [1]: ۱۵ - ۳۴، ۳۰ – ۷۰ «الف» دا د افغانستان په ختیځ کې یو ولایت دی. د دې ولایت په هکله له ۱۹۱۲ کال مخکې معلوماتو لپاره وګورئ : ننګرهار. دا سیمه په ۱۹۱۲ز کال کې کې په لاندې ډول شرحه سوې ده: د جلال آباد د درې لرغونی نوم ننګرهار دی؛ دا نوم تر اوسه د جلال آباد سویلي برخې ته اطلاق کـېـږي؛کومه سیمه چې په دې نوم یادېــږي عمدتاً له دغو سیمو سره کرښه لري: په لویدیځ او شمال کې له سرخاب او د کابل له سیند سره او په ختیځ او سویل کې د «هندو – افغان سرحد» [2] سره. دا نوم عموماً د «نهو سیندونو» د ټاټوبي په معنی یاد سوی دی (خو په پورتــنی شرحه سوې سیمي کې ۹ سیندونه اصلاً نـهٔ سته) او روایات وایي چې دا نوم د پاړسي د ژبي د نهو د عد د او د عربي ژبي د «نهر» یا سیند له ترکیب څخه جوړ سوی دی. خو والتر بـیـلو وایي چې ننګرهار یو ډېر لرغونی لغت دی او په لرغونو مهالونو کې منشاء لري چې د سانسکریت له «ناو ویهاری» [3] یا له «نهو معابدو» څخه راغلی دی؛ دا دره د پینځمي پیړۍ تر پای پورې د بودیزم د ودې او غوړېدلو لوی مرکز وو.

د ننګرهار د استوګنو وګړو په هکله لاندنی شرحه ورکړل سوې ده:

1-NINGRAHAR Or NANGRAHAR Also See NANGARHAR
2-Indo- Afghan frontier
3 -Sanskrit nau vihara, or nine monasteries


افغان جرمن آنلاین په درنښت ټاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

«ننګرهاریان لنډکي کوټونه اغوندي چې تـنـې یا ډکمې ئـې په اوږو کې دي او بې خولی پګړئ پر سر کوي. ننګرهاریان په پښتو ژبې خبرې کوي چې زموږ د سرحدي خلکو له لهجي څخه لږ توپیر لري خو د اکثریت وګړو لهجه د یوسفزیو د سیمې د خلکو لهجې ته ورته ده. ننګرهاریان د خپلو لغماني او کونړي ګاونډیو په پرتله ډېـر جنګیالي خلک دي.»

ننګرهار د کابل لپاره د خوراک توکو یو زیرمه ځای دی؛ د ډکې او جلال آباد تر منځ په هر تکې کې باید لوی څواک ته اړتیا توکي برابر کړای سي. د غنمو، وربشو، هندي جوارو او نورو غلاتو لویه شمـېـره کابل ته لېـږل کـېـږي؛ د ۱۹۰۳ ز کال په دوبې کې چې ټول افغانستان د قحطی له لاسه کړیدهٔ، قحطی پر ننګرهار هیڅ اغیزه ونـهٔ کړه. د ننګرهار شمالي برخه د کابل د سیند په اوبو او سویلي برخه ئـې د کاریزونو په اوبو خړوبېـږي. (آی. بي. سي)

**نرخ :** [4]: ۲۲ – ۳۴، ۴۸ – ۶۸ : نرخ د وردک د ولایت یوه علاقه داري ده چې ۴۸۰ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـې د ۷۷۲۸ تر ۱۰۱۸۷ تـــنو تر منځ اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لویدیځ لوري له دای میرداد، له شمال لوري له جلریز او میدان ښار، له ختیځ لوري له محمد آغي او له سویل لوري له پل ِ علم، سید آباد او چکِ وردک سره کرښه لري. نرخ ۷۰ کلي لري چې ۵ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړیو دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| عمرخیل | | Markhana | مارخانه | Karim dad | کریم داد | Deh Hayat | دِهٔ حیات |
| Tashluq | تاش لوق | Qala -i -Tawa | قلعـهٔ تاوه | Qala -i- Tatur | قلعـهٔ تاتور | قلعـ اسعمیل خسرو | |
| Bajawri | باجوړي | جوی آسیاب | | قلعـهٔ غلام حیدر | | Qala –i- Pirdad | قلعـهٔ پیرداد |
| Wala- i- Wakil -i -Abdul Salam | | والـهٔ وکیل عبدالسلام | | Khwaja Boland | خواجه بلند | Odah Khel | اودا خیل/ هدی خیل |
| Qala -i- Ismail -i- Khoraw Khel | | اسمعیل خسرو خیلو کلا | | خیرو کلا | | محمد علم کلا | |
| Qala -i- Dadel | قلعـهٔ دادل | قلعـهٔ شاه | | Dadel | دادل | اول خیلو کلا | |
| بلال خیلو کلا | | قلعـهٔ قولِ موسی | | الله یار خیلو کلا | | میرزاخیلو کلا | |
| بلوڅ خیلو کلا | | غونډۍ کلا | | Qala- i- Bocha | قلعـهٔ بوچه | زیارت کلا | |
| درویز خیلو کلا | | غازي خیلو کلا | | Qala -i –Kul Khel | قلعـهٔ کول خیل | نادر خیلو کلا | |
| Chinzai | څین زي | Sad Murda | صد مُرده | موسی خیلو کلا | | یعقوب خیلو کلا | |
| Ab Khana | آب خانه | Shamshir | شمشیر | رستم خیل | | Qala -i- Surkh | قلعـهٔ سرخ |
| Pachak | پچک | Azimuddin Watpur | | عزم الدین وټه پور | | حاجي | |
| عبدالرحمن کلا | | قلعـهٔ سلطان | | Qala-i- Kharoti-i-Tokarak | | قلعـهٔ خروټي توکرک | |
| Qala -i - Khiyali | قلعـهٔ خیالي | Qala -i - Kotagi | قلعـهٔ کوټه ګۍ | Deh Bochi | دِهٔ بوچي | Qala -i- Aqchi | قلعـهٔ آق چي |
| اسمعیل خیل | | Deh Kherqa | دِهٔ خرقه | اسلم کلا | | Qala-i-Acha Khel | قلعـهٔ آچه خیل |
| محمد اکبر کلا | | Aqchi | آقچي | Qala -i -Sad Barg | قلعـهٔ صدبرګ | Amer Khel | امَرخیل |
| سید خان کلا | | قلعـهٔ آقاګل | | جمال کلا | | محمد شاه کلا | |

[4]-NIRKH


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خانِ عزت | Kan -i -Ezat | دهٔ مسلم | Deh Muslem | شاه کابل | Shah Kabul | شهاب الدین | |
| تی تمور | Tai Tamur | چغر | Chaghar | اول خیل | | چشمه خیل | |
| اندړ | Andar | دراني | Durani | قلعـهٔ اول خیل عمرخیل | | نیازي توکرک | Niazi Tokarak |
| قلعـهٔ تـیــر | Qala -i -Tir | دهٔ پَرَک | Deh Parak | دهٔ خوردک | Deh Khurdak | قریـهٔ نهک | |
| Qarya -i- Nehak | | چینو | Chino | | | | |
| (لودویگ آدمک) | | | | | | | |

دا سیمه په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې ده:

دا یوه لویه او ښه کرل سوې دره ده چې سر ئـې د کوهٔ بابا په غرنـی لړۍ کې دی او د اوبو د راکښته کیدلو مخه ئـې شمال خوا ته ده او له ,,بیني سیوک،، ۱ مایل کوز د غوربند په درې کې راوځي. نرخ ته د اوښ د تګ یوه لاره له کاریزک څخه راغلې ده. (پیکاک)

**نرخ:** ـ ۳۴، ـ ۶۸: دا د کابل د سیند یوه څانګه ده چې د «صد مَردې» [5] په غرنی لړۍ کې راپورته کـېـږي، مخ پر ختیځ بهېـږي او له «کوتـهٔ اشرو» [6] ۶ مایله کوز د کابل له سیند سره یو ځای کـېـږي. د نرخ دره چې د میدان ولسوالي په کې شامله ده ډېـره کرل سوې او ویل کـېـږي چې ډېـر کلي لري. د میدان د درې استوګن وګړي غلزي دي. (ونلیس)

**نساد ګل:** [7]: ـ ۳۵، ـ ۷۱: دا په کافرستان کې د باشګل په درې کې د کمپ وهلو کوچنۍ سیمه ده چې له «کرکوټ» (ارنوی) [8] څخه ۹ مایله پورته ده. (آی.بي. سي)

* **نیشه ګام:** [9]: ۸ ـ ۳۵، ۲۳ ـ ۷۱ «ن»: دا د کونړ په ولایت کې «بارګام» [10] ته نېـږدې د کونړ د سیند په اوږدو کې یو کلی دی.

**نی شهر:** [11]:ـ ۳۳، ـ ۶۸ : دا د چرخ د درې په سر کې یو کلی دی. (مک لین)

**نشان:** ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا د لوګر په کوزې درې «شمالي علاقې » کې یو کلی دی چې د کابل د سرک په لویدیځ کې موقعیت لري. استوګن وګړي: تاجیکان. په ۱۸۸۰ز کال کې دلته یوازې ۳ کورنیو ژوند کاوهٔ. (کلیفرډ، ایوان سمیټ)

* **نظام خیل:** ۵۰ ـ ۳۲، ۲۴ ـ ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د پاکستان له پولې څخه شاوخوا ۴ مایله لیرې د مارغه روډ په اوږدو کې یو کلی دی.

[5]-Sad - marda range
[6] -Kota -i- Ashru
[7] -NISADGUL
[8]-Kirkot (Arnawai)
[9] -NISHAGAM
[10]-Bargam
[11]-NISHAHAR


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**نوچ** : [12]: ۱۳ – ۳۵، ۱۳ – ۶۹ «الف»: دا د سالنگ په درې کې له پروان ۱ مایل پورته یو کلی دی. دلته د یوهٔ غنډ د کمپ وهلو لپاره د یوې هموارې ډبریني سطحي پر مخ ځای سته، او نور ځای په درې کې ۴/۱ – ۱ مایل پورته په « کلاته» [13] کې موندل کـېـږي. د دې ځای واښـهٔ د غرهٔ په ډېو کې دي چې د سون توکو په توګه خوارهٔ وارهٔ پراتـهٔ دي. کلي ته نږدې د «شنګول» [14] کلی دی. (آی. بي. سي)

**نو آر**: وګورئ : ناور

**نوبالا**: [15]: ۱۹ – ۳۴، ۱۲ – ۶۷ «ج»: دا د پنج آو سرای/ پنج آب سرای د ختیځ په قریب ۱۰ مایلی کې د «سیاه درې» په کیڼي غاړې کې «په ۱۹۰۴ز کال کې» د ۶ کورونو یو کوچنی کلی دی. (ونلیس)

* **نودل**: [16] : ۱۳ - ۳۴، ۲۲ – ۶۸ «ن»: دا د میدان په ولایت کې د میدان د ختیځ په څو مایلۍ کې یو کلی دی.

**نواله**: [17]: – ۳۵، – ۶۹: دا د چاریکارو په سیمې کې د تاجیکانو یو کلی دی چې د پنجشیر د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې د غرهٔ په لمن کې د بازارک او «آناده» (عنابه) [18] تر منځ واقع او د تاجیکانو ۲۰ کورونه په کې دي. (شهزاده تیموس)

* **نوکه**: [19]: ۱۳ – ۳۳، ۴۱ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د «لومان» په شمال ختیځ کې په «ناوهٔ باریک» [20] کې یو کلی دی.

**نوکدري**: [21]: دا د یوې قبـیـلې نوم دی چې د کابل په لویدیځ کې استوګنه ده او بابر ورڅخه یادونه کړې ده. (بابر)

**نـُـکورخیل** : [22]: ۱۵ – ۳۴، ۳ – ۷۰ «ج»: دا د جلال آباد د ولسوالي د خوګیانیو په علاقه دارۍ کې د ګندمک د سویل لویدیځ په قریب ۳ مایلۍ کې یو کلی دی. استوګن وګړي: «خربون خوګیاني» [23] (جنکینز)

**د ژباړونکي یادونه:** د انګلیسي د متن په ۶۰۹/ پي دي ایف ۶۳۰ پاڼې کې د کلیولاندني نومونه لیکل سوي دي. زه نـهٔ پوهېـږم چې دا کلي په کوم ځای پورې اړه لري. زما په ګومان دا د انګلیسي متن د تایپ کولو پر مهال کومه تـېـروتنه سوې ده. له دې چې ځای یې څرګند نـهٔ دی نو زه ئـې هم د پاڼو د ترتیب په پام کې نیولو سره دلته اړ کـېـږم چې هماغسې ئـې ولیکم.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| چتار | Chutar | لینار | Linar | اچګور | Achgor | پسانتو «پسته» |
| Pasanto (Pesta) | | ګل نشان | | ګدوال | Gadwal | ګزین پچه «پچه پیچه» |

12-NOACH Or NAWACH
13-Kalata
14-Shangol
15-NOBALA
16-NODAL
17 -NOWALA
18 -Anada (Anaba ?)
19-NUKA
20 -Nawa -i- Barik
21 -NUKDARI
22-NUKUR KHEL
23-NUKUR KHEL


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اترا ره ,,اتلره,, | Nalu | نالو | Poshal | پوشال | Gazin Pacha (Pacha -Paicha) |
| | | | جاني خيل | | Atrara (Atalra) |

* **نوم ريزي:** [24]: ۵۶ – ۳۱ ، ۵۳ – ۶۸ «ن».: دا د غزني د ولايت په سويل کې د «نيکهٔ ماندي» [25] په اوږدو کې يو کلی دی.

**نور:** وګورئ: درهٔ نور

* **نوره** :۵۶ – ۳۴، ۵ – ۷۰ «ن».: دا د لغمان په ولايت کې د «کسک» [26] د شمال په ۲ مايلۍ کې د اليشنګ د سيند په اوږدو کې يو کلی دی.

**نوردي**: [27]: لوړوالی: ۲۵۰۰ فيټه. دا د شيږو يا اوو کورونو يو کوچنی کلی دی چې د «پورتني بـيـلام» [28] په نوم هم يادېـږي او د کونړ د درې په ښی غاړه کې د «پلاسګر» [29] د «ګربر» [30] له کلي کوز موقعيت لري. دا کلی د «ويلي ګل» [31] يا د «چوګري کور نالي» [32] په ښی غاړه کې واقع دی او همدا ناله دا کلی د «پلاسګر» له کروندو څخه جلا کوي. دا کلی د بـيلام له کلي څخه د سيند د بهير په پاسنی برخې کې موقعيت لري. استوګن وګړي افغانان «پېښتانـهٔ - ژ» او شيخان دي. (رابرټسن)

* **نور ګــَـل:** NUR GUL: ۳۶ – ۳۴، ۴۵ – ۷۰: نورګل د ننګرهار د ولايت يوه علاقه داري ده چې ۳۷۰ کيلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـې چې بزګري پرګني دي د ۷۴۲۶ تر ۱۷۶۲۰ تـنو پوري اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لويديځ لوري له درهٔ نور او کوز کونړ، له سويل لوري له کامي او ,,ګوشته خواجه زمر,, [33]، له ختيځ لوري له خاص کونړ او څوکۍ او له شمال لوري له چپه دری سره کربنه لري. نورګل ۱۸ کلي لري چې ۸ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دي:

| سياه قلا ,,ميا قلا,, | | Patan | پټان | نورګل سفلی | | نورګل عليا |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Sinzai Mazar | سينزي مزار | Tora Tizha | توره تيـږه | درهٔ مزار | | Siyah Qala (Miya Qala) |
| مسحود ,,مسود ــی- غازي آباد,, | | Warina | ورينه | Lodlam (Lotgeram) | | لود لام ,,لوت ګرام,, |
| Wadir Ghazibad ( Ghazibad) | | ودير غازي آباد ,,غازي آباد,, | | Wazir | وزير | Mashud (Masud -i- Ghazibad) |
| ماماګل | | Bela | بـيـله | Shamasut (Shamash) | | شامستو ,,شامَش,, |

[24]-NUM RAIZY
[25]-Nikeh Mandeh
[26]-Kusuk
[27]-NURDI
[28]-Upper Bailam
[29] -Palasgar
[30]-Garbar
[31]-Viligul
[32]-NUR GUL
[33]-Goshta Khwaja Zemar


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| Garbuz- i- Ghazibad (Awrak -i- Ghazibad) | ګريز غازي آباد «آورَک غازي آباد» | Shawat (Sholat) | شاوت «شولت» |
| Qarya- i -Arit (Adit) | قريـهٔ اريت «اديت» | Bal Nasrai (Bal Zai) | بل ناصري «بل زي» |

**نورګل**: ۳۶ – ۳۴، ۴۵ – ۷۰ «الف»: د نورګـَـل کلي د کونړ د سيند د ښي غاړې په اوږدو کې له جلال آباده ۲۶ مايله ليرې موقعيت لري. دلته ډېــره کرهڼه سوي او د کمپ وهلو لپاره پريمانه ځمکه لري خو دا ځمکه خړوبه ځمکه ده چې ښايي له باران وروسته د کارولو وړ نـهٔ وي؟ . (کولدستريم)

**نوري:** دا د دولت پای بيسود هزاره ګانو يوه خانګه ده. په دې نوم کلی په ۱۷ – ۳۳، ۲۲ – ۶۶ «ج» کې موقعيت لري.

**نورستان**: ۵۵ – ۳۴، ۲۲ – ۷۰: نورستان د لغمان د ولايت يوه ولسوالي ده چې ۳۶۳۷ کيلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمــېــر ئـې چې بزګري پرګني دي د ۱۱۳۳۰ تر ۲۲۴۷۸ تــنو تر منځ اټکل سوی دی. نورستان له شمال لوري له پنجشير او «کران» و «مُنجان» [34] ، له ختيځ لوري له «چپه دري» [35] او له سويل لوري له الينګار و اليشنګ سره او له لويديځ او سويل لويديځ لوريو له دولت شاه او پنجشير سره کربني لري. دا ولسوالي ۷۷ کلي لري چې ۱۶ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېــر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شام ګال «لتِ ګال» | | Kundi Sila | کونډي سيله | Mamo | مامو | Wad Hu | ود هو |
| پشه ګر «پش ګر» | | Bachra (Lara) | | بچره «لاره» | | Shamgal (Letgal) | |
| باغِ ترنګ | | Chayel | چايل | Shama | شامه | Pashagar (Pashgar) | |
| چندال داري «جنګل داري» | | Janya (Joniya) | | جانيه «جوني يه» | | Bagh -i- Tarang | |
| Piyar (Taipar) | | پيار «تی پَر» | | Kandu | کندو | Chandaldari (Jangal Dari) | |
| شوتره ګمبته | | Gambata | ګمبته | Dahan-i- Piyar | | دهانِ پيار | |
| Palosi | پلوسي | Khander Gambatra | | خندر ګمبتړه | | Shotra Gambata | |
| Bandai | بندي | Iskando (Skando), | | ايسکاندو «سکندو» | | Guraj | ګوراج |
| Duni | دني | Ko- Yesht | | کويشت | | Anish | انيش |
| Mandol | مندول | Dahan Koyesht | | دهان کويشت | | Awposh | آو پوش |
| Shalidur | سلي دور | Bala Murghab | بالامرغاب | Shakar Nal | شکر نال | Jana Khel | جانه خيل |
| Potla | پوتله | Tai Kamar | تی کمر | Lashtagam | لشت آګام | دِهٔ سوخته | |
| Korgal | کورګل | Mashwak (Shawak) | | مشواک «شاواک» | | Nilab | نيلاب |
| Kori | کوري | Bachagal (Bajagal) | | بچه ګـَـل «باجه ګـَل» | | Pala Gal | پاله ګـَــل |
| Chatakwar (Shadis) | | چټکوَر «شاديس» | | Korna, | کورنه | Parkdari | پارکداري |
| Dara Falak | دره فلک | Malik Minok | ملک مونيک | Mashwi (Maswi) | | مشوي «مسوي» | |
| Kora (Gora) | کوره «ګوره» | Koltan | کوتلان | Jawajam -Kot | | جاوه جم کوټ | |
| Pando (Pandaro) | | پاندو «پندارو» | | Deba Kalai | د با کلی | Tatin | تـتـيـن |
| Monawar (Mangor) | | منور «منګور» | | Shakur | شکور | Kelem | کلم |

[34] -Keran o Munjan
[35] -Chapa Dara


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Nakrah | نکره | Mashfa | مشفا | Malil | مليل | Goriz (Gorbuz) | گريز<br>گربز» |
| Shamkal Gujar -ha | | شم کال گوجر ها | | Kulcha Khel -i- Kaltan | | کُلاچه خيل ِ کلتان | |
| Saray | سرې | Nangaraj | ننگه راج | Balgosh Qawm -i- Gujar | | بل گوش قوم ِ گوجر | |
| Tita | تيته | Gudar | گودر | Rumonar | رمونار | Kushan | کوشان |
| Tabta | تب ته | Shaqa | شقه | Deh Kalan | دِه کلان | Yurnul | يرنول |

**نوري اُردي**: [36]: بناغلی وود دا نوم د يوې قبيلي د نوم په توگه يادوي چې د «سياه سنگ» [37] په درې کې د «يورت» [38] په ولسوالي کې استوگنه ده.

**نورکه دِه**: [39]: دا د «ديوال کوتل» [40] او د «باد آسيا» [41] د درې ترمنځ يو تيتکی کوتل دی.

**نورکه**: [42]: دا د دايزنگي هزاره گانو يوه ځانگه ده.

**نور خان**: ــ ۳۳، ــ ۶۹: دا د ميرزکي د کوتل د شمال ختيځ په ۲/۱ – ۳ مايلی کې کورم ته د تللي سړک په اوږدو کې يو کلی دی. (آی. بي. سي)

**نورخيل**: دا د جلال آباد د ولسوالي د بهسودو په علاقه دارۍ کې يو کلی دی. استوگن وگړي: دهگانان او تاجيکان. (جنکينز)

**نور محمده**: [43]: دا د محمد خواجه هزاره گانو يوه کوچنۍ ځانگه ده.

**نورالاسلام** : امير په ۱۹۰۶ز کال کې فرمان ورکړ چې دا نوم دې د کافرستان لپاره (چې اوس نورستان) يادېږي، وکارول سي.

**نورزي او اشتري** : [44]:دا د جلال آباد د ولسوالي د بهسودو په علاقه دارۍ کې يو کلی دی. استوگن وگړي: تاجيکان او عربان. (جنکينز)

**اوبـهٔ**: [45]: ۵۹ – ۳۲، ۵۴ – ۶۷ «ج»: دا له کندهار څخه تر غزني پورې د سړک په اوږدو کې له مقر څخه ۱۴ مايله او له جمرود څخه ۱۲ مايله ليرې يو کلی دی. د دې کلي يوه نښنه يوه لويه ونه ده او نېـږدې ئـې د رنو اوبو يوه ويالـهٔ ده چې له يوهٔ کاريز څخه رابهېـږي. د همدې ويالي بلې غاړې ته (ويالـهٔ د سړک له دې تــېـــرېـــږي) د کمپ وهلو يو مخ خلاصی ځای دی چې وچه دښته ده. د همدې سيمې په گاونډ کې دغه کلي هم موجود دي :

36-NURI URDI
37-Siah Sang
38 -Yurt
39 -NUR KADEH
40 -Diwal Kol
41 -Badasia valley
42 -NURKAH
43 -NUR MUHAMMADA
44 -NURZAI -O- USHTURI
45 -OBA


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١ | پیاري خیل | | Piari Khel |
| ٢ | بازک | | Bazak |
| ٣ | لړم | لارم | Laram |
| ۴ | سکچه | | Sekecha |

استوګن وګړي: تره کي غلزي. د کمپ وهلو سیمه چي د «اوبـهٔ - کاریز» [46] په نوم یادېــږي په ١٨٨٠ز کال سر دونالد ستیوارت او فریدریک رابرتس له کابل څخه د خپلو اړوندو سفرونو پر مهال ونیوله. د دې ځای ګردچاپیره سیمه نسبتاً کرل سوې او هر ډول اړتیا توکي لکه غلات، پسونه او علوفه باب په کي پریمانه دي. دلته مجبېټ کرل کــېـږي او په لویه اندازه صادرېــږي. (آی. بي.سي)

**اوچک:** [47]: آب چک -ژ : ٢٠ – ٣۴، ٢۵ – ٦٧ «ج»: دا د کابل – هزاره جاتو د زاړهٔ سړک په اوږدو کي د دمي نیولو شپږم ځای وو.

**اوچر**: [48]: دا د دای چوپان هزاره ګانو یوه فرعي څانګه ده.

**اوغز**: [49]: ۵٨ – ٣٣، ٢۴ – ٧٠ «الف»: لوړوالی: «تقریباً» ٧٠٠٠ فیټه. دا د جلال آباد د ولسوالي د حصارک په علاقه داری کي یو کلی دی. دا کلی د سپین غرهٔ د غرونو په شمالي لمن کي په یوهٔ تیتکي ځنګل کي واقع دی، دا غرونه په بوټو پوښلي دي او کلی د کوتل د شمال په ٨ مایلۍ کي واقع دی؛ دغـهٔ کلي خپل نوم له همدې کوتل څخه اخیستی دی. دلته اوبـهٔ او علوفه باب پریمانه دي خو نور اړتیاتوکي باید له کوزو کلیو څخه راوړل سي. (آی. بي. سي) اوسنی نقشي د «اورغز کندېو» [50] نوم ښیي. په دې نوم یو بل ځای په ۴ – ٣۴، ٢٨ – ٧٠ «ج» کي موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**اوغز کوتل**: ۵٨ – ٣٣، ٢۴ – ٧٠: لوړوالی: ١٣٠٠٠ فیټه. دا په سپین غرهٔ کي یو کوتل دی؛ د دې کوتل څوکه په همدې نوم د کلي د سویل په ٨ مایلۍ کي ده. ویل سوي چي د کوتل له سره یوه لاره چي په دوبي کي د کچرو د تګ لپاره مناسبه ده د جلال آباد د ولسوالي له حصارک څخه کرمان درې او کورم ته تللي ده. (آی. بي. سي)

**اوکي**: [51] : دا د جاغوري هزاره ګانو یوه څانګه ده.

**اولیــپــور**: [52]: – ٣۵، ــ ٧٠: دا د لغمان په شمال او د کافرستان په سویل کي یوه دره ده. ښاغلی(ګریفیتس) [53] فکر کوي چي د دې درې طبیعي ځانګړتیا تر ډېــره د همالیا له درو سره ورته والی لري په ځانګړې توګه د چارتراشو د ونو د فوق العاده توب، کثرت او ډېــروالي له اړخه د همالیا درو ته ورته یوه دره ده. د درې بیخ د سمندر له سطحې څخه تقریباً ٣٠٠٠ فیټه لوړ دی، چي د نښترو ډېــرې ښې ونې په کي وده کوي او د همدې سطحې د ۴۵٠٠ فیټو په لوړوالي کي ګڼ

46 -Oba Karez
47 -OCHAK
48 -OCHAR
49 -OGHAZ Or UGHAZ
50-Orghaz Kandao
51 -OKI
52-OLIPUR
53-Griffiths



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

ځنګلونه ئـي په ګرد چاپېرو غرونو کې غځېدلي دي. په همدې لوړوالي کې بيا د زيتون د ونو ځنګلونه پيل کـېـږي چې تر ۲۰۰۰ فيټو لوړوالي پورې ئـي غرونه پوښلي دي. د «هماليايي سدر» [54] ونو په كثرت سره د لس زرو فيټو په لوړوالي کې وده کړې ده. هغه چارتراش لرګي چې په کابل کې کارول کـېـږي د بد کيفيت لرګي دي او قيمت ئـي هم لوړ دی، غوره به دا وي چې له دې ځايه ځخه دې د سرو د ځنګلونو لرګيوته ترانسپورټي لارې چارې ويلټل سي. دلته د ترانسپورټي چارو لپاره ستونزې سته؛ خو د اوليـپور چارتراش کيدای سي د کابل د سيند په اوبو کې لاهو سي چې په همدې درې کې بهيـږي او ګريفيتس ئـي د سيلابي بهير په توګه توصيف کوي. کله چې دا لرګي د کابل په سيند کې لاهو سي بيا نو مخې ته ئـي تر سمندر پورې بله کومه غټه مانع نـۀ سته. (ګريفيتس)

**اولمه:** يا: اور مه: [55]: ۱۸ – ۳۳، ۲ – ۶۹: اولمه د پکتيا د ولايت يوه علاقه داري ده چې ۵۰۷ کيلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـي چې بزګرې پرګني دي د ۳۱۲۰ تر ۷۷۴۰ تـنو پورې اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لويديځ لوري له متا خان، له سويل لوري له سرحوزې، له ختيځ لوري له نکه او خدراڼ او له شمال لوري له زرمت سره کرښه لري. اولمه «اورمه» ۱۲ کلي لري چې ۲ کلي ئـي له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلي دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اورمـۀ جدران | | Dandak | ډنډک | Gidzai Sur Dewar (Surkh Dewar) | | ګيډزي سور ديور «سرخ ديوار» | |
| شيخ ملي | | Gardid Khwah | | ګرديد خواه | | Orma -i- Jadran | |
| Surkai (Tarkai) | | سورکي «تره کي» | | Asalat | اصالت | Shaikh Malai | |
| شاهي کوټ | | Charwazai | | چاروازي | | Kot Kala | کوټ کلا |
| Seway | سي وې | Marzak | مرزک | Wocha Orma | وچه اورمه | Shahi Kot | |

* **اومنه:** [56]: ۵۴ – ۳۲، ۴۷ – ۶۸ : دا د غزني د ولايت يوه علاقه داري ده چې ۴۶۴ کيلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـي د ۱۵۲۶ تر ۷۴۳۶ تـنو پورې چې بزګرې پرګني دي اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لويديځ لوري له سلطان خيلو، له سويل لوري له جاني خيلو، له شمال لوري له شاران او له ختيځ لوري له سرحوزې او ګومل سره کرښه لري. اومنه ۲۷ کلي لري چې ۱۰ کلي ئـي له ۵۰۰ تـنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلي دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Bandar Khel | بانډارخيل | Pas Khati | پاس خاتي | Ata Khuna | عطاء خونه | Ahmad Wal | احمد وال |
| Shalo Khel | شالو خيل | Sadat Wal | سادات وال | Sadozai Khadel | | سدوزي خادل؟ خيل؟ - ژ | |
| ميرک وال | | Lalam | لالام | قلعـۀ عبدالرحمن | | Qarar Khel | قرار خيل |
| قريـۀ فيروز خان | | Zawaka | زاوَکه | Spina | سپينه | سيدخيل | |
| چهارديوار | | تره کي | | بنګي وال | | Warroki | وروکی |
| Koliyan -i- Denar -Khel | | کوليانِ دينارخيل | | Sotiyan | سوتيان | دولت خاني | |
| Garwal | ګروال | Dangi | دنګي | Maspiki | مس پيکي | Luqman Khel | لقمان خيل |
| | | | | Dewalgai | | ديوال ګی | |

54-deodar cedar
55 -LMA Or ORMA
56 -OMNA


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

**اوپیان**: [57]: دا د چاریکارو په لویدیځ کې د کوهدامن په دښتي کې یو کلی دی چې د تاجیکانو ۳۰۰ کورنی په کې استوګنې دي. (شهزاده تیموس)

**عرفان**: اورفان: [58] :دا په خروار کې یو کلی دی چې د «عرفان» [59] په نوم هم یادېږي چې د «ګده غلزیو» [60] ۲۰ کورونه په کې ودان دي. (ګریسباخ)

**اورم**: [61] : ــ ۳۳، ــ ۶۹: دا کورم د سیند د ښی غاړې په اوړدو کې د «لنډي وام» [62] په ختیځ کې یو کلی دی. استوګن وګړي ئې احمدخیل دي چې کولای سي ۱۰۰ تنه جنګیالي چمتو کاندي. (آی. بي. سي)

**اورمه**: وګورئ: اولمه

**اوشلان**: [63]:ــ ۳۳، ــ ۶۸: دا د غزني په ولسوالي کې دوه کلا ګاني دي. د دې کلاګانو شاو خوا ځمکې په بشپړ ډول له بوټو محرومه دي او هیڅ ډول اړتیا توکي ورڅخه نـهٔ سي ترلاسه کیدای. دا کلا ګاني د غزني د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې واقع دي. (براد فوټ)

**اوتله**: وګورئ: آغوجان

**اولا ګل**: [64]: دا د کتـیـر د قبـیـلي یو کلی دی چې په کافرستان کې د کتـیـر د غرني سیند په ښی غاړه کې واقع دی او د باشګل د سیند له ښی غاړې څخه په لنډ واټن کې موقعیت لري. دې کلي کې ۵۰ کورونه دي چې د یوهٔ ډېرین غرني مهمیز په پای کې په یوه لیکه جوړ سوي دي. د «اولاګل» د سیند له پاسه له د تختي له درو جوړ یو ډېـر ښـهٔ پل تـېـر سوی دی. پورته په دره کې یوه غرنی لاره تللي چې د «پیتي ګل» [65] درې او د «منجام کوتل» [66] ته رسېـږي. (رابرتسن)

**اَوژک**: [67]: ۴۸ ــ ۳۵، ۱۶ ــ ۷۱ «ج»: دا په کافرستان کې په «سکوریګل» [68] کې د کتـیر د قبـیـلي یو کلی دی. په ۱۸۹۱ز کال کې دا یو کوچنی کلی وو چې لس دولس کورونه ئـي درلودل او د کورونو د جوړیدلو بنه ئـي د «لـُـلوکـ» [69] کورونه ته ورته وه او هماغه شان ئـي ګرد چاپیره کرهنیز پټي راتاول ول. (رابرتسن)

---

[57]-OPIAN
[58] -ORFAN
[59]-Urfan
[60]-Gada Ghilzais
[61] -ORM
[62]-Landi wam
[63]-OSHLAN
[64]-OULAGUL
[65]-Pittigul valley
[66] -Manjam pass
[67]-OUZHAK
[68]-Skorigul
[69]-Luluk


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**پچیګان**: [70]: ــ ۳۵، ـ ۶۹: دا یوه اوږده دره ده چې د نجراب له شمال ختیځ لوري راغځېدلې ده. ویل کېږي چې فرجغان ته تر ټولو نورو لاره مستقیمه لاره د پچیګان د درې له منځه تللې ده. د دې درې استوګن وګړي په «پشه یي» ژبې خبرې کوي. (ستیوارت)

* **پچیر آګام**: [71]: ۴۵ ــ ۳۵، ۱۲ ــ ۷۱ «ن»: دا د کونړ په ولایت کې د «پژ ګام» [72] په سویل لویدیځ کې په «چپه دره» [73] کې یو کلی دی.

**پچیر** : [74]: ۸ ــ ۳۴، ۱۷ ــ ۷۰ «ن»: دا د ګندمک د سویل ختیځ په تقریباً ۱۷ مایلی کې دوه کلي دي چې برنی کلی او کوزنی کلی دی. استوګن وګړي: وزیر خوګیاني. (جنکینز)

نور بیا

*** پچیر او آګام: پچیر او آګام د ننګرهار په ولایت کې...**

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

70-PACHIGAN
71 -PACHIGRAM
72-Pazhgam
73-Chapadara
74-PACHIR


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ